د ذهن د زیرکتیا، بیدارولو او مضبوطولو دپاره
عجیبه معمّی، علمی ذهنی سوالونه او جوابونه

# ذهنی سوالونه او جوابونه

## او د عبرت نه ډک خوندور متلونه


تالیف

أبو الشمس مولانا نور الهدیٰ عفی عنه

مدرس دار العلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی کاټلنګ روډ مردان



زیر اهتمام

عنایت الله ربانی

0344-9995990

مکتبه عزیزیه

محله جنګی پشاور

حنفی شافعی

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

# کفایت دینی کتب خانہ

## کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

+923052488551
+923247442395

مالکی حنبلی

# حیرانونکی
# ذهنی سوالونه او جوابونه
# او د عبرت نه ډک خونده ور متلونه

مؤلف
**أبو الشمس مولانا نور الهدیٰ عفی عنه**
مدرس دارالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی کاټلنګ روډ مردان

ناشر
مکتبه اعزازیه محله جنګی پیښور

ټول حقوق په حق د ناشر کښې محفوظ دی

د کتاب نوم:۔ حیرانونکی ذهنی سوالونه او جوابونه
او د عبرت نه ډک خونده ور متلونه

مؤلف:۔ أبو الشمس مولانا نور الهدیٰ عفی عنه
مدرس دارالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی کاټلنګ روډ مردان

ناشر:۔ مکتبه اعزازیه محله جنګی پیښور

زیراهتمام: کفایت الله (ارمانی)
0344-9995990

﴿بسم الله الرحمن الرحیم﴾

**پوښتنه**:۔ هغه څه شی دي چې انسان ئی وینی لیکن الله تعالیٰ ئی نه وینی ؟

**جواب**:۔ خوب لیدل ۔ الله تعالیٰ فرمائی : لاتأخذه سنة ولا نوم. (په الله جل جلا له نه پَرکالی راځی او نه خوب)۔

نو چې کله الله تعالیٰ خوب نکوی ، نو خوب به څه اووینی ۔

**پوښتنه**:۔ هغه کوم کار دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په غونډ عمر کې ندې کړې لیکن د یو امتی د پاره د هغې قصداً پریښودل گناه کبیره ده ؟

**جواب**:۔دا د خپل پلار خدمت دې۔ (ځکه د نبی علیه الصلوة والسلام پلار د دوی د پیدائش نه مخکې وفات شوې ؤ)۔

**پوښتنه**:۔ د نبی کریم ﷺ د وفات په وخت آخری کلام څه وو؟

**جواب**:۔اللهمّ بالرفیق الاعلیٰ ۔

**پوښتنه** :۔ هغه کوم ملکونه دی چې که د هغوی نومونه په لمانځه کې واخیستل شی ، نو لمونځ وربانديې نه ماتیږی ؟

**جواب**:۔ هغه ملکونه : بحرین ، اسرائیل ، روم ،او مصر دی ۔ ځکه د دې ملکونو نومونه په قرآن مجید کې ذکر دی ، نو که د قراءت په دوران کې د دوی نومونه واخیستل شی ، نولمونځ وربانديې نه ماتیږی ۔ ځکه دا د قرآئت یوه حصه ده ۔

**پوښتنه**:۔ هغه کوم رسول دې چې نه انسان دې ، نه پیری دې او نه فرشته؟

**جواب**:۔(رسول په معنیٰ د رالیږلی شوی سره ) دا هغه کارغه دې چې قابیل ته (کوم چې د آدم علیه السلام ځوی ؤ) د قبر کنستلو د تعلیم د پاره رالیږل شوې ؤ۔ الله تعالیٰ فرمائی :

((فبعث الله غُرابًا یَبْحَثُ فی الارض ))

**پوښتنه** :۔ هغه څومره انبیاء کرام دي چې د هغوی نومونه د پیدائش نه مخکې ایښودل شوی ؟

**جواب**:۔ هغه انبیاء کرام پنځه (۵) دی :

(۱) حضرت محمد ﷺ ۔ الله تعالیٰ فرمائی :

((مُبَشِّراً برسول یأتی من بعدی اسمُه احمد )).

(۲) حضرت یحیی علیه السلام ۔ الله تعالیٰ فرمائی :

(( یَا زَکَرِیا اِنّا نبشّرُك بغلام ن اسْمُهُ یَحْیَی))

(۳) حضرت عیسیٰ علیه السلام ۔ الله تعالیٰ فرمائی :

(( بکلمة منه اسمه المسیح )).

(۴،۵) حضرت اسحاق او حضرت یعقوب علیهما السلام۔

الله تعالیٰ فرمائی : (( ومن وّرآء اسحق یعقوب )).

**پوښتنه** :۔ هغه کوم کتاب دي چې په ټوله دنیا کې ئی د هر مذهب واله خلق په ډیر شوق سره لولی ؟

**جواب**:۔ ډکشنري ۔

**پوښتنه**:۔ په کوم صورت کې سړې د"بسم الله " په ویلو کافر کیږی؟

**جواب**:۔ د یو حرام قطعی کار(لکه د زنا کولو ، شراب څکلو او غلا کولو) په وخت چې سړې ځانته دغه کار حلال اوګنړی او "بسم الله" پرې اووائی نو په دې سره دا سړې کافر کیږی ۔

**پوښتنه**:۔ دوه (۲) زنانه په لاره روانې وې او شاته ورپسې دوه (۲) سړی راروان و ، د دې زنانه و نه چا تپوس اوکړو: چې دا شاته دوه (۲) سړی ستاسو څه کیږی ؟ دوی ورته اوویل : چې دا زمونږ زامن دی (یعنی یو کس د یوې

ښځې ځوی دې، او دا بـل کـس د بلې ښځې ځوی دې) ـ بیا دې کس د دې شاته سړو نه تپوس اوکړو: چې دا مخکې زنانه ستاسو څه کیږی ؟

دوئی ورته اوویل: چې دا زمونږ ښځې دی (یعنی دا یوه زنانه د یو کس ښځه ده، او دا بله د بل کس ښځه ده) نو صورت د مسئلې څه دې؟

**جواب**:ـ د ښځو او سړو دواړو خبره صحیح ده، دا یو کس د یوی ښځې ځوی ؤ، او دا بل کس د دې بلې ښځې ځوی ؤ، خو د دوی خپل پلاران وفات شوی وو.

نـو دې هر کس خپله مور دې بل ته په نکاح ورکړې وه، نو د ښځو خبره هم صحیح وه: چې دا زمونږ زامن دی ـ او د سړو خبره هم صحیح وه: چې دا زمونږ ښځې دی ـ

**پوښتنه**:ـ پـه یـوه تـوره تیاره کوټه کې د دوه ؤ (۲) زنانه ؤ بچی اوشو: د یوې ځـوی اوشـو، او د بلې لور اوشوه ـ اوس هره یوه ښځه دا دعوی کوی چې دا هلک زما دې ـ

فیصله قاضی ته لاړه ـ نواوس به قاضی د دوی فیصله څنګه کوی ؟

**جواب**:ـ قـاضی صاحب به دِ شیشې دوه (۲) بوتلې یوشان را اوغواړی او دا دواړه ښځې به خپل خپل شوده په دې بوتلو کې جدا جدا یو شان واچوی، اوس به قاضی صاحب دواړه اوتلی، نو د کومې زنانه د شودو (پیو) وزن چې درووند وی نو دا هلک به د هغې وی ـ

**پوښتنه**:ـ هغه کوم لمونځ دې چې په خپل وخت کې کول ئې ګناه ده ؟

**جواب**:ـ دا د حاجیانو د پاره په مزدلفه کې د ماښام لمونځ دې چې د ماښام په وخت ئې کول ګناه ده ـ بلکه د ماسخوتن د مانځه سره به ئې یو ځای کوی ـ

**پوښتنه**:ـ یو کس قسم اوکړو: چې زما د ښځې دوه (۲) بچی پیدا شوی ـ دواړه نـه هـلکان دی او نه جینکۍ، نه ژوندی دی او نه مړه، نه توردی او نه سپین،

نه ښائسته دی او نه بدرنګ ـ نو آیا دا سړي ریښتیني دي او که دروغجن ؟

**جواب** :ـ دا کس ریښتیني دي۔ ځکه د ده د ښځې دوه (۲) بچي پیدا شوی وو: یو هلک ؤ او بله جینۍ ، یو ژوندي ؤ او بل مړ ، یو تور ؤ او بل سپین، یو ښائسته ؤ او بل بدرنګ ، یعنی دواړه یو قسم نه وو بلکه مختلف وو۔

**پوښتنه** :ـ یوسړی قسم اوکړو چې زه به نن په ټوله ورځ کې د قرآن مجید تلاوت نه کوم ، اوس په ده باندې د مانځه وخت راغې نو دې به قراءت ځنګه کوی ؟

**جواب** :ـ دا دې د بل چا اقتداء اوکړی یعنی په جمعې سره دې مونځ اداء کړی نو د قسم نه به بچ شی ځکه په مقتدی باندې قراءت نشته۔

**پوښتنه** :ـ یو سړی قسم اوکړو: چې زه به نن په ټوله ورځ کې څلور رکعته مونځ (په یوسلام سره) نه کوم ،نواوس به داسړي ـ ماسپخین ، مازیګر او ماسخوتن د مانځه سره څه کوی ؟ ځکه دا خو څلور ، څلور رکعته مونځ دي۔

**جواب**:ـ دا دې په سفر باندې اووځی نو د قسم نه به بچ شی ، ځکه په سفر کې په سړو باندې قصر (دوه رکعته ) کول لازم دی ـ

**پوښتنه** :ـ هغه کوم سورت دې چې په هغې کې دوه ویشت (۲۲) آیاتونه دی ، او په هر آیت کې د الله جل جلاله اسم ذاتی (الله) موجود دي؟

**جواب**:ـ سورةالمجادلة ـ

**پوښتنه**:ـ هغه کوم سورة دې چې په هغې کې د سلو (۱۰۰) نه زیات آیاتونه دی لیکن په هغې کې جنت او جهنم ذکر نشته ؟

**جواب**:ـ هغه "سورة یوسف "دي۔

**پوښتنه**:ـ سورة فاتحه په کومه سیپاره کې ده ؟

**جواب**:ـ دا په یوې سیپارې کې هم نده بلکه د مقدمې په طور د قرآن کریم

په شروع کې ذکر ده ـ

**پوښتنه** :ـ یوکس د جنابت په حالت کښې جُمات ته ننوت، او چې واپس د جمات نه را اووت ، نو د جنابت نه پاک شوې وه ، حالانکه ده په جمات کې نه غسل کړې، نه ئې اودس کړې او نه ئی تیمم وهلې. نو دا څنګه پاک شو؟

**جواب** :ـ دې کس په کور کې نور غسل کړې ؤ، خو صرف مضمضه (خولې ته اوبه اچول) ورنه هیر شوې ؤ(نو دې اوس هم جنب حسابیږی ـ ځکه مضمضه په غسل کې فرض ده او ده نده کړې)ـ

خو چې کله جمات ته ننوت ، نو دلته ئې اوبه اوڅکلې ، او صرف خوله ئې اووینځله ، چې په دې سره هغه مضمضه هم پوره شوه، نو غسل ئې اوس پوره شو، نو د جنابت نه ځکه پاک شو۔

**پوښتنه** :ـ هغه کومې اوبه دی چې نه خو د آسمان نه نازلې شوی ، نه د زمکې نه را اوتی او نه د کومې اونې څخه نچوړ شوی ـ لیکن د ټولې دنیا د اوبو او د آب زمزم د اوبو نه بهتر دی ، او اودس هم پرې جائزدې؟

**جواب** :ـ دا هغه اوبه دی چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ګوتو مبارکو نه د معجزې په طور را اوتې وې ـ

**پوښتنه**:ـ هغه کوم غسل دې چې په هغې کې صرف یو فرض دې؟

**جواب** :ـ دا د مړی غسل دې ، چې په دې کې صرف یو فرض دې ـ چې هغه د مړی لمبول دی ـ

**پوښتنه**:ـ هغه کوم اندام دې چې په اودس کې شپږ ځله وینځلې شی؟

**جواب**:ـ دا دواړه لاسونه دی ، چې په اول کې ئی هم درې ځله وینځل سنت دی ، او د متو وینځلو سره هم دا درې ځله وینځلې شی ـ

**پوښتنه**:ـ هغه کوم مړې دې چې هغې ته نه سرې غسل ورکولې شی او نه ښځه ؟

**جواب**:۔دا خنثی مشکل دي چې ده ته به تیمم وهلې شي ۔

**پوښتنه**:۔ هغه کوم انسان دي چې نجس دې ؟

**جواب**:۔دا مړ کافر دي ۔

**پوښتنه** :۔ هغه کوم کس دې چې د هغه د پاره په موزو باندې مسح کول جائز نده ؟

**جواب**:۔ جُنُب ۔

**پوښتنه**:۔ هغه کوم خنزیر دي چې پاک دې (یعنی نجس العین نه دې)؟

**جواب**:۔دا د دریاب (بَحر) خنزیر دي ۔

**پوښتنه**:۔ هغه کوم کس دې چې د هغه نه صرف یو فرض مونځ قضاء شوې وی ، لیکن قضاء به اوس د پوره یو شواروز د لمونځونو کوی؟

**جواب**:۔دا هغه کس دي چې د هغه نه صرف یو لمونځ قضاء شوې وې لیکن اوس ورنه هیر شوې وی چې هغه کوم لمونځ ؤ۔

**پوښتنه** :۔ هغه کوم کس دي چې صفاء اوبه هم ورسره شته، د ده ضرورت هم ورته نشته ، او صفا خاوره هم موجوده ده ۔ لیکن بیا هم ده ته بغیر د اودس او بغیر د تیمم نه لمونځ کول جائز وی ؟ او بیا دوباره د دې قضاء وراندې هم لازم نوی ؟

**جواب**:۔دا هغه کس دي چې د ده دواړه لاسونه او دواړه خپې کټ شوی وی ، او په مخ باندې ئی زخم وی ۔ نو د ده د پاره بغیر د اودس او بغیر د تیمم نه لمونځ کول جائز دی ۔

**پوښتنه**:۔یو کس په لمانځه ولاړ دې ۔ چې سجدې ته لاړ او سجده ئی اوکړه ، نو لمونځ ئې فاسد شو۔ حالانکه نه ئی اودس مات شوې ، نه ورنه څه خارج شوی ، او نه ئی خندلی ۔ نو دا لمونځ ئی ولې مات شو؟

**جواب**:۔دې کس په سجده کې دواړه خپې د زمکې نه او چتې نیولې وې ۔ چې په دې سره مونځ فاسدیږي ۔

**پوښتنه** :۔ هغه کوم کس دې چې د هغه د پاره په بربنډ سَر لمونځ کول ضروري دی ؟

**جواب**:۔دا مُحرم دې (یعنی د حاجی د پاره په حالتِ احرام کې په بربنډ سَر لمونځ کول ضروري دی )۔

**پوښتنه**:۔ هغه کوم لمونځ دې چې په جُمات کې کول ئې مکروهه دی؟

**جواب**:۔دا د جَنازې لمونځ دې ۔

**پوښتنه** :۔ هغه کوم لمونځ گزار دې چې د هغه د پاره په مانځه کې د قرآن کریم تلاوت کول مکروهه دی ؟

**جواب**:۔دا مقتدی دې ۔

**پوښتنه**:۔یو کس دوه (۲) رکعته مونځ اوکړو او په دې کې ئی شل (۲۰) سجدې اوکړې ، دا ولې ؟ حالانکه دې په دې مانځه کې صرف یو ځل سهوه شوې ۔

**جواب**:۔دې کس په دې دوه (۲) رکعته کې مکمل قرآن مجید ختم کړو نو څوارلس (۱۴) سجدې د تلاوت شوې ، او څلور (۴) سجدې د مانځه خپلې دی ، او یو ځل په مانځه کې سهوه نو دوه (۲) سجدې دا شوې ۔ نو دا مجموعه شل (۲۰) سجدې شوې ۔

**پوښتنه** :۔یو حلالی هلک په اول ځل د خپلې مور نکاح د خپل پلار سره اوتړله ، او خطبه هم دې هلک په خپله اوویله ۔(یعنی د ده د مور او پلار نکاح د دې نه مخکې نوه شوې ، او ده په اول ځل ورلـه نکاح اوتړلـه) ۔ حالانکه دا هلک د زنانه هم نه دې پیدا شوې۔ نو د دې څه صورت دې ؟

**جواب**:۔د ذې هلک مور د ده د پلار خپله وینځه وه ، (او د وینځې سره بغیر د

نكاح نه وطى جائز ده)۔نو د دې وينځې نه دا هلک پيدا شوې ؤ۔ بيا ډيره موده پس دې كس دا وينځه آزاده كړه۔ او نكاح ئې ورسره كوله نو دا هلک غټ شوې ؤ، نو ده ورله نكاح اوتړله او خطبه هم ده پخپله اوويله۔

**پوښتنه**:۔يو حلالى كس په اول ځل د خپلې مور نكاح د بل چا سره اوكړه، حالانكه د ده دا مور باكره هم وه، او د دې نه مخكې يې د چا سره نكاح هم نوه كړې۔ دا ځنګه ؟

**جواب**:۔دا يوه زنانه وه هغه مړه شوه، او د هغې نه يو تى خور ماشوم او يوه بالغه لور پاتې شوه۔نو د دې بالغې جينۍ په سينه كې پۍ (شوده) راغله، هغه ئې دې خپل ورور ته وركړه۔ نو دا خور د دې هلک رضاعى مورشوه۔ بيا ډيره موده پس دا هلک راغټ شو، نو ده دا خپله خور (چې رضاعى مور ئې هم ده) بل كس ته په نكاح وركړه۔ حالانكه تر اوسه باكره هم ده۔

**پوښتنه**:۔يوكس په لاره روان ؤ، او د ده سره خپلې درې (۳) ښځې هم وې۔ چې لږ مخكې لاړه نو يوه ښځه ورباندې حرامه شوه، چې لږ نور هم مخكې لاړه نو دويمه ورباندې حرامه شوه، او چې ښه مخكې لاړه نو دريمه هم ورباندې حرامه شوه۔ (حالانكه دې كس يوې ښځې ته هم طلاق نه دى وركړې، او نه ئې ورسره ظهار كړې)۔بيا چې څه اندازه نور هم مخكې لاړه نوپخپله درې واړه ورته حلالې شوې۔ صورت د مسئلې څه دې ؟

**جواب**:۔دا كس او د ده دا درې واړه ښځې ټول يهوديان وو۔ چې لږ مخكې لاړه نو يوې ښځې اسلام قبول كړو (نودا ښځه ورباندې حرامه شوه)۔ بيا چې لږ نور مخكې لاړه نو دويمه ښځه مسلمانه شوه (نو دا هم ورباندې حرامه شوه)۔

او چې ښه مخكې لاړه نو دريمه ښځه هم مسلمانه شوه (نو دا هم

وربانديِ حرامه شوه ).

او چې څه اندازه نورمخکې لاړه نو دا سړي هم مسلمان شو، نو واپس ټولې ښځې ورته حلالې شوې. ځکه ټول مسلمانان شو.

**پوښتنه**:- د يوې ښځې سره په لوښي کې اوبه وې ـ خاوند ورته اوويل: چې که دا اوبه تا اوڅکلې ، يا بل چا اوڅکلې ، يا دې بل چاته ورکړې، يا دې ماته راکړې ، يا دې په زمکه توې کړې ، او يا په دې لوښي کې درې منټه پاتې شوې ، نو ته دې طلاقه يې.

اوس داسې څه حکمت په کار دې چې دا ښځه د طلاقونه بچ شي؟

**جواب**:- دا ښځه به په دې لوښي کې داسې يو کپړه يايو اسپنج ډوب کړی چې دا ټولې اوبه جذب کړی ـ بيا به دا کپړه نمر ته خوره کړی چې اوچه شي ، نو ښځه د طلاقو نه بچ شوه ـ

**پوښتنه** :-يو سړي خپلې ښځې ته اوويل : چې ته ماله په يو ديګی کې خوراک پوخ کړه ، او په دې ديګی کې يوسير مالګه هم واچوه ـ

خو خبردار! چې په دې خوراک کې د مالګې لږ خوند هم نوی. ځکه که په خوراک کې د مالګې خوند ؤ نو ته دې په درې کاڼړو طلاقه ئی ـ نو اوس څه صورت کول پکار دی چې دا ښځه د طلاقو نه بچ شي؟

**جواب**:-دا ښځه به دې ديګی کې يو څو د چرګې هګی واچوی، او يو سير مالګه او څه اوبه به هم پکې واچوی ، کله چې دا هګی په دې اوبو کې اوښيږی (پخې شی) نو دا دې خاوند ته ورکړی ـ نو د طلاقو نه به بچ شي ـ ځکه هګی ته دننه د مالګې خوند نه ځی ـ

**پوښتنه**:- د يوې ښځې په خوله کې نوړی وه خاوند ورته اوويل: چې که تا دا نوړی تيره کړه ، يا دې اوغورځوله نو ته په درې کاڼړو طلاقه ئی نو اوس به د

طلاقو نه د بچ کیدو څه صورت وی ؟
**جواب**:ـ دا ښځه به نیمه تیره کړی او نیمه به اوغور ځوی ـ یا دي بل کس په زوره د دې د خلی نه دا را اوباسی ـ نو په دې دواړو صورتونو کې ښځه نه طلاقیږی ـ
**پوښتنه** :ـ د یو کس دری (۳) ښځې وې ـ ده هغوی ته د بازار نه دوه لوپټې راوړې ـ نو هغوی جګړه جوړه کړه، او هرې یوې ویل: چې دا به زه په سَر کوم ـ خاوند تولو ته اوویل :
چې که په دې میاشت کې تاسو هره یوه ښځه دا لوپټه شل (۲۰) ورځې استعمال نه کړی، نو تاسو تولې طلاقې یې ـ
نو اوس به څنګه ترتیب کوی چې په دې یوه میاشت کې دوی تولې دا لوپټه شل ورځې استعمال کړی او د طلاقو نه هم بچ شی؟
**جواب**:ـ یوه لوپټه به مشرې ښځې ته ورکړی، او دویمه به درمیانۍ ښځې ته ورکړی چې دوی دا لوپټې په سر کړی ـ کله چې لس ورځې دې مشرې ښځې دا لوپټه استعمال کړه، نو دا به خپله لوپټه هغه کشرې ښځې ته ورکړی چې دا باقی شل ورځې ئې هغه استعمال کړی ـ دا درمیانۍ ښځه چې کله شل ورځې دا لوپټه استعمال کړی نو بیا به ئې دې مشرې ښځې ته ورکړی چې دا باقی لس ورځې ئې دا استعمال کړی ـ
نو هرې یوې ښځې لوپټه شل (۲۰) ورځې استعمال کړه، نو تولې د طلاقو نه بچ شوې ـ
**پوښتنه** :ـ یو سری خپلې ښځې ته وویل: چې ته ماله په دې دیګی کې داسې شئ پُوخ کړه چې د هغې نیم حلال وی او نیم حرام ـ او که داسې دې اونه کړه نو ته دې په درې (۳) کانړو طلاقه ئې، نو د طلاقو نه د بچ کیدو به

څه صورت وی ؟

**جواب**:۔ دا ښځه دې په دې دیگی کې شراب او د چرگو یو څو هگۍ یو ځای واچوی او پخې دې ئې کړی نو د طلاقو نه به بچ شی ۔ ځکه هگۍ ته دَننه د شرابو خوند نه ورننوځی ۔

**پوښتنه** :۔ یو کس خپلې لارې تیرې کړې او په دې سره د ده روژه ماته شوه ۔ حالانکه په لارو تیرولو خو روژه نه ماتیږی ؟

**جواب**:۔ ده اول دا لارې په لاس کې اوتو کلې ، بیا یې تیرې کړې ، نو په دے سره روژه ماتیږی ۔

**پوښتنه**:۔ هغه کوم کس دې چې په هغه باندې زکوٰة ورکول هم واجب وی ، لیکن زکوة اخیستل ورته هم جائز وی ؟

**جواب**:۔ دا هغه غریب زمیندار دې چې د ده د زمکې نه لږ فصل اوشی ، نو دې به د دې فصل نه زکوة (عشر) هم ورکوی ، لیکن د غربت په وجه د نورو نه زکوة هم اخیستلی شی ۔ [illegible]

**پوښتنه**:۔ هغه کوم غني او مالدار کس دي چې د هغه د پاره زکوة اخیستل جائز دی ؟ [illegible]

**جواب**:۔ دا هغه غني دې چې په سفر راوتې وی ، او دلته په سفر کې ورسره دومره روپۍ نوی چې خپل کور ته پرې اورسي ، نو ده ته زکوة اخستل جائز دی ۔

همدارنگی عاملِ زکوٰة ته هم زکوٰة اخستل جائز دی ۔

**پوښتنه** :۔ هغه کوم فقیر دې چې په هغه باندې دا لازم وی چې په قرض روپۍ راواخلی او حج اوکړی ؟

او هغه کوم مالدار دې چې روپۍ ورسره ښه ډیرې دی لیکن بیا هم په هغه باندې حج کول لازمی نه وی ؟

**جواب**:۔دا هغه فقیر دي چې اول د ده سره ډیري زیاتے روپۍ وي، او په ده باندي حج فرض ؤ خولیکن ده حج اونکړو، بیا هغه روپۍ ورنه ختمې شوي۔نو اوس په ده باندي د هغې حج قضاء لازمه ده ۔

او دا مالدار هغه کس دي چې ده ته په لاره کې د دشمن یا د بل شی نه ویره وی نو په ده باندي حج لازم نه دي (ترڅو چې ویره نوی ختمه شوی)۔

**پوښتنه** :۔د یو کس دوه ښځې وي، یوه په پاس چت کې وه ، او دویمه په لاندې چت کې۔ دي په اندرپایه (پاؤړۍ) پاس چت ته ختلو، چې د اندر پائی نیمائی ته اورسیده نو هري یوې ښځې ورته ویل: چې ماته راشه۔

نودې سرې قسم اوکړو ، او دواړو ته ئی اوویل: چې نه خو پاس تاته درځم ، او نه لاندې تاته درکوزیږم ، او نه به دلته په دې اندرپایه (پاؤړۍ)کې درې (۳) منته پاتې شم ۔ نو اوس څه صورت پکار دي چې دا سړې دَ قسم نه بچ شی ؟

**جواب**:۔دا لاندې ښځه دې پاس اوخیجی ، او دا پاس دې لاندې راکوزه شی ، اوس دې سړی ته اختیار دې: چې پاس خیجی ، او که لاندې راکوزیږی ۔ په دواړو صورتونوکې نه حانثیږی ۔

ځکه اوس پاس همغه مخکینۍ ښځه نده پاتې ، او لاندې هم همغه مخکینۍ ښځه نده پاتې ۔

**پوښتنه** :۔ هغه کوم کس دي چې هلاک یو شی کړی ، خو تاوان به اوس د دوه و (۲) ورکوی ؟

**جواب**:۔دا هغه کس دي چې د بل چا یو څپلۍ په زوره ضائع کړی ، نو دې به اوس تاوان د دواړو څپلو ورکوی ۔

**پوښتنه** :۔یو کس په ګلاس کې اوبه څکلې ۔ چې نیمې ئی اوڅکلې د هغې نه روستو ورته حرامې شوې ، حالانکه ده تراوسه ګلاس د خولې نه

هم ندي رالري کړي؟

**جواب**:۔ د نیم ګلاس اوبو څکلو نه روستو د ده پوزه راماته شوه او وینه په ګلاس کې اوغورځیده چې په دې سره اوبه ګندې شوې نو ځکه حرامې شوې ۔

**پوښتنه**:۔ هغه کومه بهیدونکې وینه (دَمِ مسفوح) ده چې پاکه ده؟

**جواب**:۔ د شهید وینه ۔

**پوښتنه**:۔ هغه کوم شهید دې چې هغه ته به غسل ورکولې شی ؟

**جواب**:۔ دا هغه شهید دې چې په هغه باندې د شهادت نه وړاندې د جنابت په وجه غسل واجب شوې وی ، یا هغه زنانه چې د شهادت نه مخکې وریاندې حیض یانفاس راغلې وی دا او دوی ته غسل نوی کړې تو د شهادت نه روستو به دوی ته غسل ورکولې شی ۔

**پوښتنه** :۔ دوه (۲) غوایان دي، د یو مخ مکمل مشرق طرفته دې او د بل مخ مکمل مغرب طرفته ، اوس د دوی په مینځ کې په داسې طریقې سره وابنه اچول پکار دی چې دواړه ئې یو ځای اوخوری ؟

**جواب**:۔ دواړه یو بل ته مخامخ ولاړ دی ، خو د یو مخ مشرق طرفته دې او د بل مخ مغرب طرفته ، نو د دوی په مینځ کې وابنه واچوه نو دواړه به یې یو ځای خوری ۔

**پوښتنه** :۔ هغه کوم یو لفظ دې چې ښه صحیح ئې اولیکې ، بیا هم خلق ورته غلط وائی ؟

**جواب**:۔ هغه لفظ "غلط" دې ۔ یعنی دا (غلط) لفظ که ته هر څومره صحیح اولیکی ، لیکن بیا هم خلق چې په دې تکلم کوی نو غلط ورته وائی ۔

**پوښتنه** :۔ په یو هوټل کې دوه (۲) پلاران او دوه (۲) زامن دی، او پیالی صرف درې (۳) دی ۔ نو اوس داسې څه حکمت پکار دې چې په دوی کې

هر يوكس ته پيالي اورسي او تول په يو ځل پكې چاى اوڅكى؟

**جواب**:۔ په اصل كې كسان هم درې (۳) دي ۔ يونيكه ، دويم ئې ځوى ، او دريم ئې لمسى ۔ نو په دې درې (۳) كسانو كې دوه پلاران دي (يعنى نيكه او ځوى ) ۔ او دوه زامن دي (يعنى ځوى او لمسى )۔

نو هر يوكس ته يوه پيالي رسي ، د هيڅ حكمت ضرورت نشته۔

**پوښتنه**:۔ هغه كوم كس دې چې انسان دې خو بنى آدم نه دې ؟

**جواب**:۔دا حضرت آدم عليه السلام دې۔ ځكه انسان دې خو بنى آدم نه دى (يعنى د آدم عليه السلام ځوى ندې ) بلكه پخپله آدم (عليه السلام ) دې ۔

**پوښتنه**:۔ هغه كوم يو ګل دې چې بُويولې نشى خوخوړلې شى؟

**جواب**:۔دا د ګوبى ګل دې چې خلق ئې بُوى كوى نه خو خورى يې۔

**پوښتنه**:۔په دنيا كې د تولو نه زيات بنايسته كوم شى دې ؟

**جواب**:۔انسان : ځكه الله تعالىٰ فرمائى : (( لَقَدْ خَلَقْنَا الْانسانَ فِى أَحْسَنِ تَقْوِيم ))۔ (بيشكه مونږ پيدا كړو انسان په ډير ښه صورت كې)۔

**پوښتنه**:۔ هغه كوم ماهى دې چې خپلو بچو ته شوده (پى) وركوى؟

**جواب**:۔وُهيل ماهى ۔

**پوښتنه**:۔ چې لس (۱۰) ګزه لرګې وى او په هره ورځ ورنه يويوګز غوڅولې شى ۔ نودا به په څو ورځو كې خلاص شى ؟

**جواب**:۔دا بـه پـه نهـه (۹) ورځـو كې خلاص شى ۔ ځكه په نهمه ورځ چې لرګې غوڅ شى ۔ نـو هـغـه لسـم ګز به په خپله جدا پاتې شى ۔ نو په نهه ورځو كې به ختم شى ۔

**پوښتنه**:۔يو سير اوسپنه درنه وى ، او كه يو سير مالوچ ؟

**جواب**:۔دواړه په وزن كې يوشان وى ۔ ځكه دواړه يو، يو سيروى۔

**پوښتنه**:۔د یو کس سره یو چیلۍ ، یو لیوه او څه واښه وو، په لاره روان وو ۔ مخې ته دریاب راغي ۔ د دریاب په غاړه داسې کشتۍ وه چې صرف دوه شیان پکې ځائیدې شو(د دوو (۲) نه زیات پکې نه راتلل)

نو اوس داسې څه حکمت پکار دې ، چې دواړه طرفته داسې موقع پیدا نشي چې لیوه دا چیلۍ اوخوری، یا چیلۍ دا ګیاه اوخوری ۔ او په کشتۍ کې د دوه شیانو نه زیات لاړ هم نشي ؟

**جواب**:۔اول به دا کس د ځان سره په کشتۍ کې چیلۍ پورت باسي او اخوا غاړې ته به یې پریږدي ۔ بیا به په دویم ځل د ځان سره واښه ویسي ، هلته به واښه پریږدي ، او چیلۍ به د ځان سره واپس دیخوا راولي (ځکه کهٔ چیلۍ هم هلته پاتې شي نو دا ویره ده چې واښه اوخوري) بیا به د ځان سره لیوه په کشتۍ کې بوځي ۔ (او چیلۍ به دیخوا غاړې ته پریږدي ) ۔ لیوه به اخوا غاړې ته د وښو سره پریږدي ۔ اوس به دا سړې واپس راشي او د ځان سره به چیلۍ هم پورې باسي ۔ (نو هیچا ته هم موقع پیدا نشوه چې لیوه دا چیلۍ اوخوري یا چیلۍ دا واښه اوخوري)۔

**پوښتنه** :۔ هغه کوم شی دې چې ساهٔ اخلي خو لیکن نه پکی روح شته نه غوږنه ، او نه وینه ؟

**جواب**:۔دا سهر دې ۔ الله تعالیٰ فرمائي :

وَالصبح اِذَا تَنَفَّسَ (قسم دې په صبا باندې کله چې دې ساه اخلي)۔

**پوښتنه**:۔ هغه کوم شی دې چې په دنیا کې موجود دی مګر د جنت وی ؟

**جواب**:۔دا حجر اسود دې چې د جنت نه راغلې ۔

**پوښتنه** :۔ هغه کومه ډله ده چې د حق ګواهي یې ورکړې وی لیکن بیا هم دروغجن وی ؟

**جواب**:۔دا منافقان دی : الله تبارک وتعالیٰ فرمائی :

(( اذا جاء ك المنافقون قالوا نشهدُ انّك لرسول الله و الله يعلم انّك لرسوله والله يشهد ان المنافقين لكذبون )).

**پوښتنه** :۔ هغه کوم شی دي چې د یوبل شی خلاف د حق ګواهی ورکړی لیکن بیا به هم دا دواړه په دوزخ کې اچولې شی ؟

**جواب**:۔دا د کافر او ګناهګار انسان خپل اعضاء (لاس، خپې او ژبه) دی ۔ چې د قیامت په ورځ به د ده خلاف ګواهی ورکړې (چې په ما باندې یې دا دا کارونه کړی ) بیا به دا انسان سره د دې اعضاو جهنم ته اوغورځولې شی ۔

**پوښتنه** :۔ هغه کوم پنځه (۵) شیان دی چې په زمکه ګرځیدلی لیکن نه د چا د خیټې نه راوتی او نه چا زیږولی ؟

**جواب**:۔ هغه پنځه شیان دا دی :

(۱) حضرت آدم علیه الصلوة والسلام ۔

(۲) حضرت حواء رضی الله عنها۔

(۳) د حضرت صالح علیه السلام اوښه ۔

(۴) د حضرت موسیٰ علیه السلام امسا۔

(۵) د حضرت اسماعیل علیه السلام ګډ۔

**پوښتنه**:۔په یوه کاسه کې درې (۳) کسانو روټۍ اوخوړله۔ حالانکه دا روټۍ د یو کس د پاره حرامه وه ، د دویم د پاره مکروه وه ، او د دریم د پاره حلاله وه ۔ د مسئلې حقیقت څه دې ؟

**جواب**:۔په دې درې (۳) کسانو کې یو خاوند ؤ. دویم یې ښځه ، او دریم ئې تی خور ۔چې ؤ۔ دې ښځې دې خپل ماشوم بچی ته شوده ورکول چې ناڅاپه په دې کاسه کې پریوتل ۔

نـودا د خاونـد د پاره حرام دی ، د ښځې د پاره مکروه ، او د ماشوم د پاره حلال دی ۔

**پوښتنه** :۔دوه (۲) کسـان وو د هـغـه یـونـه چا تپوس اوکړو چې دا بل دې څه دې؟ هغه ورته اوویل: چې دا زما خپل حقیقی ورور دې۔

بیـا ئـی دې بـل نـه تپوس اوکـړو چې دا ستـا څـه دې؟ نو ده ورتـه اوویل: چې دا مې ورور نه دې۔ نواوس سوال دا دې چې دا ئی څه ؤ؟

**جواب**:۔دا ئې خور وه ۔

**پوښتنه**:۔ هغه کوم جماد شی دې چې د هغې نه ژوندې شی پیدا شوې وی ؟

**جواب** :۔دا هـغـه کـانړې دې چې د هـغې نه د حضرت صالح علیه السلام اوښه پیدا شوې وه ۔

**پوښتنه**:۔یـو کس د بل چا پلار دې، لیکن هغه د ده ځوی ندې۔ نو هغه د ده څه دې ؟

**جواب**:۔ هغه یې لور ده ۔

**پوښتنه**:۔ هـغه څه شی دې چې په ورځ کې نشته ، په شپه کې شپږ(٦ ) دی ، په میاشت کې اووه (۷) دی او په کال کې بالکل نشته ؟

**جواب**:۔ټکې (یعنی نقطې)۔

**پوښتنه** :۔درې (۳) گـنـی بـه ، درې (۳) غوایانو ته په څه طریقې سره واچوو چې هر غوایی د دوه (۲) گنو سرونه په یو ځل په خوله کې اونیسی ؟

**جواب** :۔دا درې (۳) گـنـی بـه د مثـلـث پـه شـکـل کیدو او هر کنج ته به یو غـوایـی اودروو نـو درې (۳) واړه غوایان به په یو ځل د دوه (۲) گنو سرونه په خوله کې اونیسی ۔

**پوښتنه** :۔پـه مـېـز یـوه کـاسه کې دوه (۲) مالټې د درې (۳) کسانو په مینځ

کې داسې تقسیمول پکار دی چې هريو کس ته يوه رُوغه مالته اورسی ؟
**جواب**:۔ مالتې هم درى (۳) دی ۔ چې په سوال کې پخپله ذکر دی۔ ځکه په سوال کې ويل شوی : په ميز يوه ، (يعنی يوه مالته په ميزده) کاسه کې دوه (۲)(يعنی دوه ۲ مالتې په کاسه کې دی)۔
نو مالتې هم درې (۳) دی او کسان هم درې (۳) دی ، هرکس ته يوه روغه مالته رسيږی ۔
**پوښتنه**:۔د يوې ښځې سره يو هلک روان وو چا د دې ښځې نه پوښتنه وکړه : چې دا هلک ستا څه دې ؟ نو دې ښځې ورته په جواب کې وويل چې: "د دې هلک ماما زما ماما ته ماما وائی " نو دا هلک د دې ښځې څه کيږی ؟
**جواب** :۔دا ئی ځوی دې۔(ځکه د دې هلک (کوم چې د دې ښځې ځوی دې) ماما د دې ښځې خپل ورور کيږی ۔ نو اوس چې د دې ښځې ځوک ماما وی نو هغه به لازمی د دې هلک د ماما هم ماما وی۔
**پوښتنه**:۔د يو سړی سره يوه ښځه روانه وه ، چا د دې سړی نه پوښتنه وکړه چې دا ښځه ستا څه ده ؟ نو ده ورته په جواب کې وويل چې: زما خواښې او د دې ښځې خواښې سره مور او لور دی "نو اوس دا ښځه د دې سړی څه کيږی ؟"
**جواب** :۔دا ئی اينګور (د خپل ځوی ښځه) ده ۔ ځکه د ننګور خواښې د سړی خپله ښځه کيږی، او د دې سړی خپله خواښې د ده د خپلې ښځې مور ده ۔ نو د دې کس خبره ريښتيا ده چې : زما خواخې او د دې ښځې خواخې سره مور او لور دی ۔
**پوښتنه** :۔ هغه څه شئ دې چې ننويستل ئی فرض دی ، برابرول ئی سنت دی او بيرته (واپس ) راويستل ئی ناجائز دی ؟
**جواب**:۔دا مړی دې ۔ ځکه چې د مړی خښول فرض کفايه دی او په خی

ارخ ئی اچول او قبلې ته ورلـه مخ کول سنت دی او بغیر ضرورته ئی راویستل ناجائز دی۔

**پوښتنه**:۔ هغه څه شئ دي چې سر ئی شته خو مازغه ئې نشته ، خیټه ئی شته خو کولمې ئې نشته ، او خوله یې شته خو غاښونه ئی نشته ؟

**جواب**:۔ چایځ نک (یعنی چایځ جُوش)۔

**پوښتنه**:۔سګ وائی سپی ته سګ مردار دې ۔ ،

سیخ مې نیغ په مینځ کې ورکړو حلال شونه ۔

د دې پاس شعر څه مطلب دې ؟څکه چې په سپي کې نیغ سیخ ورکولو سره خو سپې نه حلالیږی ۔

**جواب**:۔سګ سپی ته وائی خو چې مونږ د "سین" او د "کاف" په مینځ کې "الف" اولږول (کوم چې د سیخ په شان نیغ دې) نو د دې نه "ساګ" جوړ شو او ساک (سابه) حلال دی ۔

## ﴿یو عجیبه حیرانوونکې سوال﴾

په یو هوټل کښې دری (۳) کسان وو ۔ هرکس د لسو (۱۰) روپو ډوډۍ اوخوره ، کله چې د روپو د پاره د هوټل واله نوکر راغې ، نو دوی ټولو ورته لس (۱۰) ،لس (۱۰) روپۍ ورکړې ۔

دې نوکر خپل مالک ته دا ټولې دیرش (۳۰) روپۍ ورورې۔ هغه مالک واپس پنځه (۵) روپۍ دې نوکر ته ورکړې ۔ او ورته وې ویل:

چې دا یُوسه او په هغه درې کسانو ئی تقسیم کړه ۔ نوکر هر کس ته یوه ، یوه روپۍ ورکړه ، او دوه (۲) ئی ورنه پټې کړې ۔

(نو اوس د هر کس نه نهه (۹) ،نهه (۹) روپۍ لاړې ، څکه نوکر هریو کس ته واپس یوه (۱) ، یوه (۱) روپۍ ورکړه )۔

نو اوس سوال دا دې: چې د دې درې كسانو دا نهه (۹) ، نهه (۹) روپۍ سره جمعه كړې شي ، نو دا ټولې اوه ويشت (۲۷) روپۍ جوړيږي -
او دوه (۲) روپۍ نوكر پټې كړي - نو چې هغه هم ورسره جمعه كړې شي - نو دا ټولې نهه ويشت (۲۹) روپۍ شوې-
نو هغه بله يوه (۱) روپۍ څه شوه ؟ حالانكه دا خو ټولې ديرش (۳۰) روپۍ وې ؟

**جواب**:-ستاسو د ذهنونو استعمالولو د پاره صرف د دې يو سوال جواب ندې ليكل شوې - چې دا به تاسو په خپل ذهن حل كوئ -

**پوښتنه** :- هغه كوم لمونځونه دي چې په جماعت سره اداء كولې شي خو ليكن نه ورته آذان شته او نه اقامت ؟

**جواب**:-دا د وړوكى اختر ، غټ اختر او د جنازې لمونځونه دي -

**پوښتنه** :-يو سړي خپلې ښځې ته وويل چې :"يا طالق" (اې طالقې) ليكن بيا هم دا ښځه نه طلاقيږي - دا ولې ؟

**جواب**:-د دې ښځې نوم "طالِق" وو، نو دې سړي دې ښځې ته آواز اوكړو چې "يا طالق" او د ده نيت هم د طلاقو نه ؤ نو په دې سره دا ښځه نه طلاقيږي -

**پوښتنه**:-يو سړي داسې قسم اوكړو چې زه به پدې آئنده رمضان كې روژې نه نيسم ، بيا آئنده رمضان كې ده روژې هم اونه نيولې ، حالانكه دې گناهګار هم ندې - دا ولې ؟

**جواب**:-دا سړې سفر ته اوتې ؤ ، او په سفر كې خو د انسان د پاره د افطار رخصت شته ، نو ځكه ئې روژې اونه نيوې ، او گناهګار هم ندې - البته قضاء به ئې راګرځوي -

**پوښتنه**:۔ هغه کوم کس دی چې کلمه ئی نده ویلې لیکن بیا هم په اسلام کې داخل شوې ؟

**جواب**:۔دا هغه کس دی چې هغه دا ووائی چې: "مافلاني مذهب پريښود او د اسلام دين مې قبول کړو "یا" زه مسلمان یم "نو په دې سره دا کس مسلمانیږی ۔

په رد المحتار کې دی :

لو قال انا مسلم فهو مسلم ، وكذا لو قال على دين محمد او على الحنفية او على دين الاسلام .

**پوښتنه** :۔ هغه کوم کس دی چې د بل نه خو میراث نه شی وړې البته د ده نه نور خلق میراث وړې شی ؟

**جواب**:۔دا مرتد دی ۔ ځکه مرتد د مسلمان نه میراث نشی وړې البته مسلمان وارث د مرتد نه میراث وړې شی ۔

**پوښتنه**:۔ هغه څوک دی چې هغه ته د ګیری ویستل مستحب دی ؟

**جواب** :۔ښځه ۔ ځکه چې د ښځې کله ګیره را اوشی نو دیته دا ګیره ویستل مستحب دی ۔

**پوښتنه** :۔د یو مسلمان څلور (۴) ښځې وي او بغیر د طلاق او ارتداد نه پده باندې څلور واړه حرامی شوې ۔ دا ولې ؟

**جواب** :۔د دې سړی څلور ښځې وې یوه پکې مشره وه او درې (۳) پکې د دوه کالونه کم عمر واله وې ، نو دې مشرې ښځې دې درې (۳) واړو له شوده (پی ) ورکړه ۔ نو اوس په دې خاوند باندې ټولې حرامې شوې ۔

★★★★★★

★

**﴿د عبرت نه ډك خونده ور متلونه﴾**

۱. خپل عمل د لاړي مل دي .
۲. چې عمل ئي سلامت وي نو په برخه ئي جنت وي.
۳. روغ صورت نیمه بادشاهي ده.
۴. پیاز دي وي خو په نیاز دې وي.
۵. شرم په سترګو کې وي.
۶. چې زر پاك وي د اوره څه باك .
۷. د زړه پته د تندي نه لړي.
۸. سترګې د سترګو نه شرمیږي.
۹. د هر سر دَ پاسه سر دي.
۱۰. شیخ فریده خُله پټه بهتري ده.
۱۱. پاك اُوسه بې باك اُوسه.
۱۲. اصیل ته اشارت کم اصل له لوړ.
۱۳. غر که لوړ دي په سر ئي لاره شته .
۱۴. چې څه تیار وي هغه د یار وي.
۱۵. ښه خُوئي د سُلطان وي بدخُوئي د حیوان وي.
۱۶. ښه چې زیاد شي نو هرڅه برباد شي.
۱۷. خپله خوله هم قلاده هم بَلاده.
۱۸. چې څه کرې هغه به ریبې.
۱۹. راست اوسه ، په لویه لاره ملاست اُوسه.
۲۰ نمر په ګوته نه پټیږي.
۲۱. اوکې سترګې خدائي (جل جلاله) نه مروي.
۲۲. ناراسته سړي په اوچه زمکه خُویږي.
۲۳. ژرنده که د پلار ده خو په وار ده .
۲۴. څوك چې اوزګارشي نو یا غل شي ، یا بیمار شي.
۲۵. سترګې په بنړو نه درنیږي.
۲۶. کوږ لرګې په باره کې نه سمېږي.
۲۷. تور لیمڅې په صابون نه سپنیږي.
۲۸. که باز د لُوږې مري خو چینډخې نه خوري.
۲۹. تربُور که خر شي نو سوریږه پرې مه .

۳۰. مور پلار چې زاړه شي نو د ګوړې نه خواره شي.
۳۱. یو وارې چې زوړ شي نو بیا خدای خبر چې جوړ شي.
۳۲. بې عقله جمال خوښوي، عاقل کمال.
۳۳. په یو کتاب څوک نه مُلا کیږي.
۳۴. دَ پردي پُولاؤ نه خپل سُوکړک ښه دي.
۳۵. د بل کلي د زمري نه د خپل کلي ګیدړ ښه دي.
۳۶. د پردي ځوي نه خپله لُور ښه ده.
۳۷. ځنګل چې اور واخلي نو اوچ او لامده دواړه سوځي.
۳۸. د یو ګوتې شو ملو سره تول شوده ماسته شي.
۳۹. شریف خپل شرافت کولو کم اصل ویل چې د مانه یریږي
۴۰. د غیرت پګړۍ ځوانانو ته په سَر کیږي.
۴۱. د ګور شپه نه په کور کیږي.
۴۲. دنیا په اُمید خوړې شي.
۴۳. دوست اشارې ته ګوري دشمن وارې ته.
۴۴. بارداره اونه تل په کانړو ویشتل کیږي.
۴۵. د ګیدړ مقابلې له هله ځه چې زمرې شې.
۴۶. که شپه تیاره ده منړې په شماردي.
۴۷. که جنګ نه کوې نو لکۍ خو ببره ساته.
۴۸. کم عقل سړې دَ پردي خیرات مشري کوي.
۴۹. خواره شي مکارې چې هم جنګ کوې هم ژاړې.
۵۰. ګنجې په سر تارنلري، په چا کارنلري.
۵۱. ناکامه خلق هندو ته هم ماما وائي.
۵۲. کونړ دوه (۲) ځله خاندي.
۵۳. یوه دړه اُور نکوي دوه بنې کور نکوي.
۵۴. خر په کته نه درنیږي.
۵۵. ښځه په کورښه ښکارې، ژرنده په شُور.
۵۶. د پردي پالنګ نه خپل پُوزې ښه دې.
۵۷. چینډخ په لوته اوخت نو کشمیر ئې اولید.
۵۸. په ګنړو قصابانو کښې غوا مرداریږي.
۵۹. دَ خره لکۍ که د هر طرف نه کچ کوې نو دوه نیمې لویشتې ده.

٦٠. د خرومرګ، د سپو اختر.
٦١. ښځه کړه ښښتی ده ماته به شي خو سمه به نشي.
٦٢. سَل پاړ او یو لوړ.
٦٣. ستا داړې ذاتي چینګۍ وي او زه دې د خندا نه شین کړم.
٦٤. په خپله ئي خر نشته د بل په اس پورې خاندي.
٦٥. په دسترخوان هرمچ زمرې دې.
٦٦. په شملکۍ دې شوم غلطه، چې کورته دې راغلم نه دې خَرؤنه دې کته.
٦٧. د زرګر راستي دا ده چې غلا به درنه کمه اوکړي.
٦٨. تېك د دواړه لاسه خیجي.
٦٩. څه مور لنګه، څه ترور لنګه.
٧٠. څه توره تیره وه څه ابی ورسته وه.
٧١. نه سَل خویه ئي نور وي نو یو پکې د مور وي.
٧٢. چې ډول دې په غاړه کړو نو په وهلو کې ئي څه شرم دې.
٧٣. دښمني په سلام نه ورکیږي.
٧٤. د کونډې هم زړه کیږي، هم ئې ساړه کیږي.
٧٥. د کونډې ځوي نیم بادشاه وي.
٧٦. چې چرګه غټیږي نو کُونه ئې تنګیږي.
٧٧. خولې د هغه تازیانو تورې وي چې ښکار کوي.
٧٨. خرِ سپې د ګیدړ ورور دې.
٧٩. هر سړې پوزه توره کړي چې زه لو هاریم.
٨٠. پته خربوزه ده، خبر نه یم چې خوږه ده که پیکه ده.
٨١. د سوال په اوبو ژرنده نه چلیږي.
٨٢. چې اوږه نه خوري بوی ترې نه ځي.
٨٣. د کاره تیکي سره کړه توره جوړیږي.
٨٤. چې څه تیاروي هغه د یاروي.
٨٥. چې تیر شي هغه هیر شي.
٨٦. چې خومره غټ وي نو دومره لټ وي.
٨٧. چې بل ئي اُوخوري ګل شي، چې خپله ئي اوخوري غُل شي.
٨٨. مرې په ژړا نه ژوندې کیږي.
٨٩. نه سیخ سوي نه کباب.

۹۰. ولاړې اوبه زر سخا کیږي.
۹۱. غرېه غر نه ورځي بنده په بنده ورځي.
۹۲. غوږ ئې ګټه سر ئې بائلو.
۹۳. میاشت د ورومبی ورځې نه معلومیږي.
۹۴. مه کوه په چا چې اوبه شي په تا.
۹۵. میلمه خپل نصیب خوري.
۹۶. مدعي سُست، ګواه چُست.
۹۷. چې میږي ته خدائي په قهر شي نو وزرې ورکړي.
۹۸. خر د ښیدپه خوراك څه پو هیږي.
۹۹. ښه چې اوکړې یادوه ئې مه.
۱۰۰. ښه جالوان د طوفان په ورځ معلومیږي.
۱۰۱. د پردي شال نه خپله شړۍ ښه ده.
۱۰۲. خپل ځان ساته، بل ته مه وایه چې غل ئې.
۱۰۳. اوبو وړې د غاړې کبل ته هم لاس اچوي.
۱۰۴. انسان د کانړي نه کلك او د ګل نه نازك دي.
۱۰۵. چاړه که د سروشي خو په ګیډه د منډلو نده.
۱۰۶. چې په اَخور دې لوي شي نو غابښ ئې مه ګوره.
۱۰۷. اَرزان بې علته نوي، ګران بې حکمته نوي.
۱۰۸. اول طعام، بیا کلام.
۱۰۹. لږ خوره تل خوره، ډیر خوره ګنډیر خوره.
۱۱۰. یو د لوږې مري، بل ئې سرته پراتې ګوري.
۱۱۱. په یو تیکي کې دوه (۲) توري نه ځائیږي.
۱۱۲. دوه (۲) بادشاهان په یو تخت نه راځي.
۱۱۳. چې مالك خوار وي نو سپي ته به څه واچوي.
۱۱۴. هسې جوړ، خوکار ته ناجوړ.
۱۱۵. ماپه آسمان غوښتې، خدائي په زمکه راکړي.
۱۱۶. مار خوړلي د پړي نه هم ویریږي.
۱۱۷. هرچاته خپل وطن کشمیر دي.
۱۱۸. د کم عقل دوست نه هوښیار دښمن ښه دي.
۱۱۹. که غوښه اوسوزي نو د پیتی نه ئې خوند ښه وي.

۱۲۰. پردې کټ د نیمې شپې وي.
۱۲۱. ګټه په تاوان کیږي.
۱۲۲. چې یارانه په شلتالو شوه نو اونشوه.
۱۲۳. ګل په بوټې کې ښه ښکاري.
۱۲۴. جې ګلونه کرې ، نو بوراګان به ورله راځي.
۱۲۵. ښځه که هرڅومره ښه ده خو د سړي ځاښ نشي نیوې.
۱۲۶. لاس لاس پیژني.
۱۲۷. لعل په ایرو کښې نه پټیږي.
۱۲۸. چې ځنګه خرګې ، هغسې ئي بارګې.
۱۲۹. کچه ځانګه په نري باد هم کږیږي.
۱۳۰. اختر پټ میږه نه دې.
۱۳۱. چې اختر تیر شي نو نکریزې په دیوال اُوتَپه .
۱۳۲. څومره چې آسمان ګرزیږي دومره نه وریږي.
۱۳۳. قُل هُو همغه قُل هو ده خو خوله د میزوب نده .
۱۳۴. یو ترې پُور غواړي، بل ترې نور غواړي.
۱۳۵. اول غوړ ګوره بیاسپې پسې منډه وهه.
۳۶. بَخت په تنډه دي، نه په منډه.
۱۳۷. ستاد خیره مې توبه ، خو دا سپې دې رانه کُوړې کړه.
۱۳۸. تریُورکه هرڅه مړه خوارشي خودا مه وایه چې تاله به هار شي.
۱۳۹. چرګ د [illegible]ه څټلو څه پو هیږي.
۱۴۰. خپل سَر په [illegible]پله نه خریل کیږي.
۱۴۱. دَخره مینه لته ده.
۱۴۲. ګټه چې په ځاي پرته وي نودرنه وي.
۱۴۳. ښار په پسته ژبه خوړې شي.
۱۴۴. ښایسته په سُلو کې یو وي.
۱۴۵. ډیر ئې موندل نه ، او لږ ئې خوړل نه، نو د اُولږې مړ شو .
۱۴۶. رانده ته شپه او ورځ یو وي.
۱۴۷. دَ نر ځوي ژړا په رونړي کې معلومیږي.
۱۴۸. صورت ئې غټ په کار کې لټ.
۱۴۹. خُله په غاښونو ښایسته ښکاري.

۱۵۰. واده آسان دي، ټك ټوك ئي ګران دي.
۱۵۱. خر همغه خردي خو کته ئي بدله ده.
۱۵۲. کار ته سسته خوراك ته تندرسته.
۱۵۳. کارینده کور مړوي، بې کاره مور ژړوي.
۱۵۴. سپي غاپي کاروان تیریږي.
۱۵۵. کارغه د اصله تور دي سپین به نشي.
۱۵۶. کارغه د زرکې تګ کړو خپل ئي هیر کړو.
۱۵۷. ډم ته چاوې یار دي مړشو وې د کومې کوڅې.
۱۵۸. دَ موچي خپلې څپلۍ شلیدلې وي.
۱۵۹. غل پردي سل (۱۰۰) کوره وران کړي خو یو خپل کورروغ نکړي.
۱۶۰. غلبیل کوزې ته ویل په تا کې دوه (۲) سوري دي.
۱۶۱. اوبه چې د سره تیرې شي څه یوه نیزه څه دوه نیزې.
۱۶۲. اوبس دَ پولې لاندې نه پټیږي.
۱۶۳. هر سُورګیري مُلاشاګل نوي.
۱۶۴. داسې مکوه انسانه چې ځوي ګران کړې اور آرزانه.
۱۶۵. هغه ساعت هغه مصلحت.
۱۶۶. که یوه غونډۍ دې هواره ډیرې کندې به پرې ډکې شي.
۱۶۷. هندو سترې خداي ناراضه.
۱۶۸. هوښیاره مرغۍ د دواړو خپو نه نَخلي.
۱۶۹. لورې وایم تاته، اِنګورې غوږ پرې کیده.
۱۷۰. یو بهلول یو ئي کچکول.
۱۷۱. د غمه ئي خلاصیږم نه، د ښادۍ نه ئي خبریږم نه.
۱۷۲. چې د کوره سپك شي، بهر ئي باد وړي.
۱۷۳. د ویش نه په تالا خوشحال دي.
۱۷۴. وروړ که میرنې شي د تربوره ډیر بنه دي.
۱۷۵. وروری به کوو خو حساب ترمینځه.
۱۷۶. د بل په کورسل (۱۰۰) میلمانه څه دي؟
۱۷۷. واده ته وادګې مه وایه.
۱۷۸. که دَ خوږ کانړې پاسته وې نو ګیدړانو به تول خوړلې وه.
۱۷۹. دښمه خس مه ګڼړه په سترګو کې به دې پریوځي.

۱۸۰. که سيند په چپودې ، د سپي پکي په ژبه څتمل دي.
۱۸۱. کهٔ لاړ شي تربلخه ، درسره ده خپله برخه.
۱۸۲. بده ښځه کړه لخته ده ، ماته به شي خوسمه به نشي.
۱۸۳. سيکه دَ وَښُو په اور نه ويلي کيږي.
۱۸۴. پردي خر په ملا مضبوط وي.
۱۸۵. پردي خر شل منه وړي.
۱۸۶. پردي کټ د نيمي شپې وي.
۱۸۷. په يو سري چې دوه شي ، رڼرا ورځ پرې توره شپه شي.
۱۸۸. ښځه واړه ګوتي څوك په خوله نه منډي.
۱۸۹. قرض د تعلقاتو قينچي ده.
۱۹۰. په تيل کې ښنګري ماتيږي.
۱۹۱. په جنګ کې مري کيږي.
۱۹۲. په خپل کورميږي هم زوَرور وي.
۱۹۳. په سترې مشي د چا خوله نه ماتيږي.
۱۹۴. په شرم هغه څوك شرميږي چې په شرم پو هيږي.
۱۹۵. په عُمر کشر په عقل مشر.
۱۹۶. په غوجَل کې يو غوا متيازې اوکړې رنګ د تولو بد کړي.
۱۹۷. چې ازمايلې دې نوي باور پرې مکوه .
۱۹۸. په يو ځنګل کې د دوه (۲) زمريانو شپې نه صبا کيږي.
۱۹۹. په يو ګل نه پسرلی کيږي.
۲۰۰. پيريانو ته غزنې څه دي.
۲۰۱. د اصلي ښځې کول ګران دي خوساتل ئې آسان دي، د کم اصلې ښځې کول آسان دي خوساتل ئې ګران دي.
۲۰۲. د بارانه تختيدم د ناوې لاندي مې شپه شوه .
۲۰۳. د پيښې نه تيښته نه کيږي.
۲۰۴. د ځوانئ يوه لحظه وي ، دانه چې هميشه وي.
۲۰۵. سختي په زنکدن کې ، يا چې شپه شي بل وطن کې.
۲۰۶. چې ځې ځې آبازوله به راځې.
۲۰۷. د ډيوې لاندې تياره وي.
۲۰۸. د ډيرو همساديو ګيدي.

۲۰۹. د ژمي اُور دي هرڅوك ئي ځان ته راكاږي
۲۱۰. سل بللي ځائيږي ، يونابللي نه ځائيږي.
۲۱۱. دسړي ګټې نه تود تاوان ښه دی.
۲۱۲. د پروت زمري نه ګرزنده ګيدړه ښه ده.
۲۱۳. تمباكو كه تراخه دي، چيلمي ته خواږه دي.
۲۱۴. چې بار نشي وړی، اوړه ورته مه نيسه.
۲۱۵. چې څومره خرګې وي هغومره يې بارګي وي.
۲۱۶. چې څوك نه وهي په نوك ، تابه نه وهي په سوك، .
۲۱۷. چې ماشوم اونه ژاړي، مور يې نه ورکوي.
۲۱۸. ته مړنه ئي ،ماژړلي ندي.
۲۱۹. څه لاس پناه ، څه غر پناه.
۲۲۰. ماته ګوته مه نيسه ، چي تاته ګوته نه نيسم.
۲۲۱. چي بل ته يو ګوته نيسي ، څلور به تاله راځي.
۲۲۲. ځوانه ښځه د بوډا ميړه خاوند وي.
۲۲۳. هسې اويه خَره وي.
۲۲۴. چاپه كلي كي نه پريښود، وي چي اَس مي د مَلك کَره اوتړی.
۲۲۵. زور د ملاکنډ غرسوري کړي.
۲۲۶. زرګر دُهوکه كړي په شلم (۲۰) كال پو هيږي.
۲۲۷. زور خوزور وي خو چل هم د زوره كم نوي.
۲۲۸. زه او ته راضي، څه به اوكاندي قاضي.
۲۲۹. زه په طمعه، ته بيغمه.
۲۳۰ زه ئي په پيرۍ كي شك ګنړم، ته ورته مُريدان ګوري.
۲۳۱. زه دې پوزه پريكوم ، ته رانه پيزوان غواړې.
۲۳۲. ژرنده او جُمات پيژنه.
۲۳۳. ژرنده په چَل ګرځي.
۲۳۴. ژړا هم د زړه زُور غواړي.
۲۳۵. د سپي خوله په هډوكي نه خوږيږي.
۲۳۶. سپي چې څومره غاپي، هومره نه تراپي.
۲۳۷. سيند د سپي په خُله نه پليتيږي.
۲۳۸. سپين غريبي واوري نوي.

۲۳۹. ستا د څه کمې دې چې په لاس دې سُور غمې دې.
۲۴۰. سر چې د شال شي د کشميره به ورته راشي.
۲۴۱. اَس د مورډي په زور توپونه وهي.
۲۴۲. سل دې اومره، خويودې مه مره.
۲۴۳. نافرمانه ښځه دشمن دې.
۲۴۴. سَل روپۍ پُور کړه ، د اختر شپه په کور کړه.
۲۴۵. سيند ته دشگو بند مه تړه.
۲۴۶. شرعه ظاهر گوري.
۲۴۷. شکونړ که حلال دې، رنگ ئي مردار دې.
۲۴۸. په نه کارکې څه کار.
۲۴۹. چې پردي کورته په طمعه شي، يو من غوښه ئي کمه شي.
۲۵۰. چې اوښان ساتې ، دروازې لوړې جوړوه.
۲۵۱. چې مُور ئي برگه وي، لور ئي ټگه وي.
۲۵۲. چې مرمۍ وريږي، وينې توئيږي.
۲۵۳. چې درومې نو څه به مُومې.
۲۵۴. چې چيرته ډب وي هلته اَدب وي.
۲۵۵. چې سردې نه خوږيږي، داغ پرې مه ږده .
۲۵۶. چې قاضي دې مدعي شو فيصله به په چا کوې.
۲۵۷. چې په گوره مري نو زهرو ته ئي څه حاجت دې.
۲۵۸. دَ نِشت نه مُوزي ښه دې کټ خو پرې ډک وي.
۲۵۹. د نيستۍ هرساعت مرگ دې.
۲۶۰. د هيلۍ بچې ته لامبو مه زده کوه.
۲۶۱. که د چا پلارئي، خو زما يارئي.
۲۶۲. د املوکو په تُول کې راغلې دې.
۲۶۳. آسمان په تيگو ولې.
۲۶۴. شپيلۍ او ستوان نشي کيدې.
۲۶۵. اَلَا بَلَا برگردن مُلا.
۲۶۶. د کلي اوځه، دَ نرخه مه اُوځه.

★★★